مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۲/۱۶

له امارت څخه د ولس پوښتنه

د ژوندون لار مو په لوي لاس ویجاړوي ته ولې؟
تورو تیارو پر لور مو داسې ټیل وهي تـه ولې؟

زموږ د ځوان نسل د عمر بـیـه څـوک ورکـوي
دوي همدا اوس له ښوونځي راګرزوي تـه ولې؟

موږ به د کوم زبـر ځواک غاړې ته لاس اچـوو
دا ټول ځوانان په بې علمۍ کې خواروي ته ولې؟

سیالی که شی تـکنالـوژۍ، علـم، قلم پـر ژبـه
په نن سبا افغان ولس نور غـولوي تـه ولـې؟

تـر هـر څه زیاته خـو مخکښه د سـواد کـچـه ده
سترګې روښانه شي پر زده کړه دا تـرې ته ولې؟

د خپل ملت په ارزښـت پوه شي عالـمان د هېـواد
په وروسته پاتې ولس تیارې راخپروي تـه ولـې؟

کومه وړتـیـا کې ګاونډیانو سره سیـال جوړیـږو؟
د پـرمـخـتـګ پـر لاره څـاه راته کاږې تـه ولـې؟

داسې ښکاریږي په لوی لاس موږ په تیارو ډوبیږو
روښنـایي وژنـې هر یـو څـرک یې ډوبـوي تـه ولـې؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ